له دے نه زیاته مینه هیڅوک نهٔ لری
چه د خپلو دوستانو د پاره خپل ځان
ورکړی

# اَصلِی مِینه

# اصلی مینه

## د یو قاتل قیصه

د کاکیس غرۀ په علاقه کښے دوه یتیمان ځوانان وو. مشر د نیک چال چلن خاوند او خدائے پرسته وو. او د هغۀ ډیر شوق وو چه زما ورور دې هم سم شي لیکن کشر ورور ئے نصیحت نه منلو اؤ په بدو کارونو کښے مشغول وو. په شراب او په نشه او په هر قسم بدمعاشئ به ئې خپل ژوند تیرولو. او د خپل ورور نصیحت به ئې بلکل نۀ اوریدلو.

یوه شپه داسې وشو چه مشر په کټ کښے ملاست وو، نو په دروازه کښے څه آواز راغے چه دروازه ئے لرے کړه نو کشر ورور ې زر دننه ننوتو. د سر نه تر ښپو پورے ئے په مخ او په لاسونو او په کپړو وینه پرته وه. او په لړزیدلو سره ئے رو رو خپل ورور ته ووئیل چه زر ما پټ کړه. یو سړے مے په شراب خانه کښے ووژلو او پولیس ما پسے دے. که چرې ما اونیسې نو ضرور به مے پانسی کړی. مشر ووئیل چه دلته ما سره ځائ نشته چه پټ

دے کړم. خیر دننه راشه. مخ لاسونه دے ووینځه او کپړے دے اوباسه. دا ئے ووئیل او دروازه ئے پورے کړه او خپلے جامے ئے لرے کړلے.چه کشر خپل مخ لاسونه پاک کړل، نو مشر خپلی صفا جامے ورکړلے او د وینو کپړے ئے واغوستلے. بیا په دروازه کښے شور جوړ شو. مشر خپل ورور په یوے الماریٔ کښے بند کړو. او د کور دروازه ئے لرے کړله. د پولیس دوه سپاهیان دننه راغلل او زر ئے مشر گرفتار کړو. وئے ووئیل چه: اے قاتله! خپلو جامو ته وګوره چه تا څۀ کړی دی؟ هغه ئے بوتلو او په جیل خانه کښے ئے بند کړو.
بله ورځ په عدالت کښے حاکم ترینه پوښتنه وکړه چه تا څۀ کړي دی؟ هغۀ په جواب کښے ووئیل: حضور! دا ماته معلومه ده چه د دی جرم د پاره ضرور پانسی ده. قاضی صاحب ووئیل: خیر خپل بیان راکړه.
مجرم ووئیل: حضور! هیڅ وئیلے نۀ شم. قاضی ډیر کوشش وکړو چه پوره بیان ترے واخلی، لیکن کامیاب نه شو. په آخر کښے حاکم په مجبورئ سره د پانسئ حکم وکړو. او سپاهیانو هغه قید خانے ته بوتلو.

د پانسۍ کیدلو نه یوه ورځ مخکښې قیدے درخواست وکړو چه زۀ یو عرض لرم چه داروغه اووینم. داروغه چه راغے نو قیدی ورته داسی ووئیل چه:
داروغه صاحبه! زما اخری درخواست دا دے چه زۀ خپل کشر ورور د چیتۍ لیکلو اجازت غواړم. او دا چیتۍ دے بے زما د وړوکی ورور نه بل څوک نۀ ګوری. امید لرم چه تۀ به زما دا درخواست منظور کړے.
درخواست ئے منظور شو او مشر ورور چیتۍ اولیکله او د سپاهی په لاس ئے داروغه ته ولیږله بل سبا قیدے د خپل کشر ورور د وینو سرو جامو سره پانسی شو او خپل ځان ئے قربان کړو. د پاره د دے چه کشر ورور ئے بچ شی، خو خپل ځان ئے بچ کولے نه شو.
له دے نه وروستو هغه چیتۍ ئے کشر ورور ته ورکړے شوه چه هغۀ چیتۍ وکتله نو د خپل ورور دستخط ئے وپیژندلو. په چیتۍ کښې ئے دا لیکلي وو.
اے زما نیازبینه وروره! اسلام علیکم! سبا به ستا د وینو سرے جامے اغوندم او خپل ځان به ستا په ځائے ورکوم. لیکن زۀ په خوشخالۍ او مینے سره خپل ځان ستا د پاره قربانی کوم ځکه چه پوره یقین مے دے چه تۀ به زما پاکے جامے واغوندے

او داسے کار به کوے چه زما د نوم او زما د خاندان عزت په کښے وی. او د دے مینے په یاد سره به تهٔ خپل گناهونه پریږدے! ستا د خوږ ورور له طرفه

هر کله ئے چه دا چیټئ کشر ورور ولوستله، نو په زړۀ ئے داسی اثر وشو چه پړمخے پریوتلو او ډیر ئے وژړل.

بیا زر جیل خانے ته لاړو. او داروغه ته ئے چیټئ وښیله او ووئے وئیل چه افسوس! افسوس! زهٔ د خپل مشر ورور د مرګ ذمه وار یم. ولے ما نه پانسی کوئ؟ زما هیڅ حق نشته چه زه دے ژوندے پاتے شم. بیا کشر ورور د حاکم په عدالت کښے حاضر شو او ټول حال ئے ووئیلو. حاکم دا فیصله وکړه چه مشر ورور عجیبه مینه وکړله چه خپل ځان ئے د کشر د پاره ورکړو. او بیا کشر ته سزا ورکول پکار نه دی. لیکن دا مناسبه خبره ده چه کشر ورور دې د خپل مشر ورور په شان خپل چال چلن درست کړی. او ځان دی د هغهٔ په شان صادق ثابت کړی.

پس له دے نه د کشر ورور طبیعت بلکل بدل شو او هغه به د مشر ورور په نمونه عمل کولو. مشر ورور بل بچ کړو خو خپل ځان ئے نهٔ شو بچ کولے.

امید دے چه د مالک عیسیٰ مسیح د قیصے نه به ټول واقف یئ. لکه څنګه چه هغه د مرګ په وخت په سولئ باندی زوړند

وو. نو د هغۀ دښمنانو ورپورې په دې شان سره ټوکې کولې.
وئيل ئې چه ته که د خدائے زوئے ئې نو راکوز شه، نو مونږ به
درباندې ايمان راوړو. او بيا به ئے خپل سرونه خوزول اؤ وئيل
به ئے چه نور خلق ئے بچ کړل خو خپل ځان نۀ شی بچ کولے. دغه
ټولې خبرې په ټوکو سره وئيلے شوې. خو دا رښتيا او درست
دی خو ويونکی پوهه شوی نه وو چه په دے خبرو کښے د زيرې
مطلب پوره شو. او په دې خبرو کښے د مالک لويه مينه ظاهره
شوه چه مالک عيسیٰ نور بچ کړل او خپل ځان ئے نۀ شو بچ
کولے. ځکه چه د روميانو په خط کښے ليکلې دی چه:
خو خدائے خپله مينه مونږ ته داسے ښکاره کړه، کله چه مونږ لا
ګناهګار وو نو مسيح زمونږ له پاره مړ شو. (روميان ۵:۸)
نو صرف مسيح دا حق لری چه د عدل تقاضا پوره کړی. ځکه
هغه د مجرم په ځائے سزا وزغمله، نو ځکه د ګناه معافی
ورکولے شی.
مالک عيسیٰ مسيح چا چه هيڅ چرې هيڅ ګناه نه ده کړې.
هغه د نورو ګناهونه په خپل ځان واخستل او خپل ځان ئے
قربان کړو. نو اوس هغه دا حق لری چه خلقو ته خلاصون
ورکړی او نور بچ کړی.

اے دوستانو عجیبه خبره خو دا ده. چه عیسیٰ مسیح زمونږ د ګناهونو د پاره په سولۍ باندی خپل ځان ورکړو. خدائے صفا وئیلی دی چه:

"د ګناه مزدوری مرګ ده" دا لویه ګناه نه ده څه چه مونږ د مسیح د مرګ مجرم یو؟ مونږ خو ځکه د دوزخ لائق یو، لیکن خدائے د یو ګناهګار په مرګ او په هلاکت هم نه خوشخالیږی. لیکن دا خوښوی چه بنی آدم د سزا نه بچ شی او معافی ومومی چه عیسیٰ مسیح د نورو خلقو د بچ کولو له پاره اراده وکړه، نو د سولۍ مرګ ئے هم ترک نۀ کړو، نو د خدائے د عدالت فیصله دا ده چه که څوک د مسیح په مینی او په قربانۍ ایمان راوړی او په ریښتیا توبه کوی او خپله ګناه پریږدی، نو معافی به ومومی. ځکه چه لیکلی شوی دی چه:

"ځکه چه په کوم وخت چه مونږ لا بے وسه وُو نو مسیح د بے دینو د پاره مړ شو. د یو صادق د پاره به په مشکله څوک ځان مرګ ته حواله کړی. خو خدائے خپله مینه مونږ ته داسے ښکاره کړه، کله چه مونږ لا ګناهګار وُو نو مسیح زمونږ د پاره مړ شو! او اوس چه مونږ د مسیح د مرګ په وسیله صادق کړے شوو نو بیشکه چه مونږ به د هغۀ په وسیله د خدائے د غضب نه هم بچ شو. ځکه چه سره د دے چه مونږ د خدائے دُښمنان وو نو مونږ

د هغهٔ د زوئے د مرګ په وسیله د خدائے د غضب نه هم بچ شو. ځکه چه سره د دے چه مونږ د خدائے دُښمنان وو نو مونږ د هغهٔ د زوئے د مرګ په وسیله ورسره پخلا شوو او د دے نه زیات د هغهٔ د زوئے د ژوند په وسیله به بچ شو. خو یواځے دا نه، بلکه مونږ د خپل مالِک عیسیٰ په وسیله په خدائے کښے خوشحالی کُوو ځکه چه د هغهٔ په وسیله ورسره پخلا شوو او د دے نه زیات د هغهٔ د زوئ د ژوند په وسیله به بچ شُو! خو یواځے دا نه، بلکه مُونږ د خپل مالِک عیسیٰ مسیح په وسیله ورسره پُخلا شوی یُو.

که چرے د چا شوق وی چه د دے خبرے زیاته واقفتیا حاصله کړی، نو د انجیل شریف تلاوت دے وکړی نو پوره حال به ورته معلوم شی. که چرے شوق ئے وی چه خپل ګناهونه پریږدی او خدائے سره صلح او روغه ولری او ابدی ژوندون او پوره معافی حاصله کړی، نو زما صلاح دا ده چه هم نن دے خپل زړهٔ تش کړی او دا دُعا دے اوکړی چه:

اے خدایه زهٔ ستا ډیر ګناه ګار او نالائق بنده یم. او په دے کښے شک نشته چه زهٔ د سختے سزا لائق یم، لیکن ما د عیسیٰ مسیح په لویه مینه باندے خیال وکړو او دا فیصله مے وکړه چه اوس ایمان راوړم چه عیسیٰ زما په ځائے کفاره شو او

د هغهٔ د وینی په وسیلی سره به زما گناهونه معاف شی، نو اے خدایه! ما قبول کړه او د گناه د سختئ نه او د سزا نه ما خلاص کړه! آمین

په انجیل شریف کښے لیکلي دی چه: "خدائے د دے دُنیا سره داسے مینه وکړله چه خپل یک یو زوئے ئے هم ورکړو چه هر هغه څوک چه په زوئے ئے ایمان راوړی هغه هلاک نهٔ شی خو د تل عمری ژوندون بیا مومی." نو ځکه زه د عیسیٰ مسیح د نوم په وسیلے سره دا دُعا کوم. آمین!

زه دا په یقین سره وئیلے شم چه کُوم وخت ما دا دُعا له خدائے نه غوښتله، نو هغهٔ ضرور واوریدله او زه ئے د شیطان او د گناه د سزا نه بچ کړلم.